BankIslami

د اسلامي بینکاری پیجندګلو

# بینک اسلامی

سره

په پښتو ژبه کښي

I am Saving
Humanity
From Riba

BankIslami

د اسلامي بینکارۍ پېژندګلو

# بېنك اسلامي

سره

په پښتو ژبه کښې

## پیشکش

شعبہ شریعہ، بینک اسلامی پاکستان لمیټډ

دا کتابچہ د بینک اسلامي د شرعي شعبے د
اړخه وړاندي کولے شي۔ د دے کتابچےمقصد
د اسلامي  بینکارۍ په باره کښې د عامو خلقو
پوهه زیاتول دي۔ په دے کتابچہ باندے نظر ثاني
شوے ده خو بیا هم که لوستونکي حضرات متن
یا حواله کښې څه غلطی بیا مومی نو مهرباني
دې وکړئ مونږ ته دي په لاندي ورکړے شوي
اي میل ایډریس باندے دی ضرور خبر راکړئ
چي په راتلونکے نسخه کښي دهغے اصلاح
اوکړے شي۔ مننه

deen.connect@bankislami.com.pk

وړومبنے ایډیشن 2021

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدُ للهِ ربِّ العالمينَ، والصَّلاةُ والسَّلامُ على أشرفِ الأنبيَاء والمُرسلينَ،
وعلى آلهِ وأصحابِه أجمَعينَ، وبعدُ

# پیش لفظ

زمونږ دینِ اسلام یو مکمل او جامع دین دے چي مطلب یه دا دے چي اسلام د ژوند هر اړخ دپاره هدایات ورکوي. دا هدایات عبادت سره سره نورو شعبو باره کښې هم دي لکه عقائد، معاملات، معاشرت او اخلاق- د اسلام په ټولو حکمونو باندے عمل کول د دین تقاضه ده او په دے باندے عمل کولو سره مونږ کامل مسلمانان جوړے دے شو. د ژوند یوه اهمه شعبه معیشت او مالیات ده چي د دے بارے کښې هم د دین احکامات موجود دي. نن صبا د روایتي بینکارۍ په بدل کښې اسلامي بینکاري ده چي د شریعت په رڼرا کښې خلقو ته د بینکارۍ خدمات وړاندے کوي. عامو خلقو کښې د اسلامي بینکارۍ باره کښي پوهه زیاتولو د پاره دا کتابچه وړاندے کولے شي-

بینک اسلامي د اسلامي بینکارۍ خدمت ورکونکې یوه روښانه اداره ده- چي کوشش یه دا دے چي د اسلامي  بینکارۍ په باره کښې د عامو خلقو پوهه زیاته شي- هم  دے سلسله کښې دا کتابچه "د اسلامي بینکارۍ پیجندګلو بینک اسلامي سره" یو کوشش دے- په دے کتابچه کښې د بینک عمومي خدمتونو پیجندل ، د اسلامي بینکارۍ ضرورت او اهمیت ، اسلامي بینکارۍ او روایتي بینکارۍ کښې فرق ، د اسلامي بینکارۍ خدمات او په عام طور سره دے باره کښې ده تپوسونو جوابونه وغیره موضوعات په اسانه ژبه کښي بیان شوي دي-

زه دا امید لرم چي دا کتابچه به د اسلامي بینکارۍ بنیادي پیجندګلو دپاره مفیده وي. تاسو ټولو ته دا درخواست دے چي د خپلو قیمتي تجویزونو او رائے ګانو نه مونږ خبرداره کړئ - ستا سو مشورے او تجویزونه به دا کوشش نور هم خه کړي اور د دے په رڼرا کښې به، په بل ایډیشن کښې دا کتابچه به نوره هم بهتره کړے شي.

الله تعالي دې دا کوشش خپل دربار کښې قبول کړي، د مسلمانانو دپاره دې فائدو سبب او د سود ده ختمولو دپاره ذریعه دے اوګرزوي-

مفتي ارشاد احمد اعجاز

سربراه مجلسِ امورِ شریعہ

بینک اسلامی پاکستان

# فهرست


**د سود حرمت او د اسلامي بینکارۍ ضرورت:** 6

**اسلام، د ژوند یوه مکمله ضابطه ده:** 6

**د مالي معاملاتو اهمیت:** 6

**بینک :** 7

**د بینک ضرورت و اهمیت:** 7

1. د مال حفاظت: 7
2. سرمایه کارۍ: 7
3. د صارفینو مالی ضروریات پوره کولو د پاره آسان تیا: 7
4. کاروبار چلولو د پاره مالي ضروریاتو پوره کول: 8

**د اسلامي بینکارۍ ضرورت:** 8

سود (Interest)؛ د عامے بینکارۍ د حراموالي سبب: 8

د قرآني آیتونو په رنړا کښې د سود (Interest) حرمت : 9

د احادیثو په رنړا کښې د سود ممانعت : 10

**اسلامي بینک:** 10

د اسلامي بینک خصوصیات: 10

د اسلامي او عامے بینکارۍ ترمنځه فرق: 11

**د اسلامی بینکارۍ نمونه (Islamic Banking Model):** 11

**1:** صارفینو نه سرمایه راټولول (Deposit Side): 12

**2:** صارفینو ته تمویل (Asset Side): 12

**اسلامی بینکارۍ کښې د ډپازټ طریقے:** 12

قرض: 12

مضاربت: 13

د مضاربت اصول: 13

د بینک ډپازټرز سره مضاربت: 13

اسلامی بینکونوکښې د مضاربت طریقه: 13

**په اسلامی بینکاری کښي د تمویل(فائنانسنګ) طریقے:** ........ 14
**شریکَوَل:** ........ 14
د شرکت الملک اصول: ........ 14
د شرکت العقد اصول: ........ 14
شرکت متناقصہ(Diminishing Musharakah): ........ 15
د شرکتِ متناقصه استعمال: ........ 15
رننګ مشارکه: ........ 15
د رننګ مشارکه استعمال: ........ 16
**په کرایه ورکول:** ........ 16
اجاره: ........ 16
د اجارے اصول: ........ 16
د اجارے استعمال: ........ 16
**اغستل او خرڅول:** ........ 16
1.مرابحہ: ........ 16
مساومہ: ........ 17
د مرابحه او د مساومه اصول: ........ 17
د مرابحه استعمال: ........ 17
2. تجاره: ........ 17
د تجاره اصول: ........ 17
د تجاره استعمال: ........ 17
3. سَلَم: ........ 17
د سلم اصول: ........ 18
د سلم استعمال: ........ 18
4۔ استصناع: ........ 18
د استصناع اصول : ........ 18
د استصناع استعمال: ........ 18

**د اسلامی بینکاری باره کښي عمومي سوالونه**...................................................................19
آیا په اسلام کښي د بینکارۍ تصور موجود دے؟..............................................................19
آیا اسلامي بینک استیټ بینک سره سودي معامله کوي؟......................................................19
اسلامي بینکاری او عامه بینکاری په ظاهره یو شان ښکاری. فرق په کښې څه دی؟.................19
اسلامي بینک هم په مقرره وخت ادائیګۍ نه کولو په صورت کښي د کسټمر نه د خیرات په
شکل کښي اضافي پیسے اخلي. آیا دا سود (Interest) نه دے؟ .........................................20
آیا د اسلامي بینکونو د پاره دا صحیح ده چي د دوي په فائنانسنګ (Financing) کښي
سودي بینچ مارک، KIBOR وي؟.................................................................................20
اسلامي بینک په حقیقت کښي شرعي اصولو سره روان دئ . په دے به څنګه باور کوو؟..........21
**د بحث نتیجه** ....................................................................................22
**زمونږ ذمه واري** ..................................................................................22

## د سود حرمت او د اسلامي بېنکارۍ ضرورت:

بېنک بنيادي طور باندے يو داسې اداره ده چې د مختلف اکاؤنټونو په شکل کې ډپازټ وصول کوي او د فائنانسنګ په شکل کې مالي ضرورتونه پوره کوي۔ دعامے بنکارۍ (يعنې سودي بنيکارۍ) د معاملاتو بنياد د قرضو په ورکړه راکړه دے. سودي بېنک ګاهګ ته د ضرورت پوره کولو دپاره قرض پيسے ورکوي او بيا ترے زياتې وصولوي اودے ته سود(Interest) وئيلے شي کوم چې په شريعت کې منع کړے شوے دے۔

## اسلام، د ژوند يوه مکمله ضابطه ده:

د اسلام تعليمات يوازې عبادت پورے خاص نه دي بلکه د ژوند ټولو شعبو سره تعلق لري لکه عقائد، معاملات، معاشرت او اخلاق۔ د اسلام ټولو احکامو په پيروۍ سره مونږ پوره مسلمانان جوړيدے شو۔ په دے کتابچه کې مونږ د اسلام هغه هدايات ذکر کوو کوم چې بېنکارۍ او مالي معاملاتو سره تعلق لري۔ اسلام په مالي معاملاتو کښې ديانتدارۍ باندے ډير زور ورکړے دے. هم د دے وجې يو مسلمان په حيثيت سره د اسلامي بېنکارۍ او مالي معاملاتو متعلق بنيادي پوهه ډيره ضروري ده .

اسلامي بېنکاري د سود نه ډډه کولو سره بېنکي خدمتونو وړاندې کولو د پاره شروع شوے وه۔ په اسلامي بېنکارۍ کښې د شريعت اصولو له مخې ډپازټ راټولې کې او تمويل کيږي، په دې وجه اسلامي بېنکاري د عامے بېنکارۍ د پاره يو جائز متبادل دے۔

## د مالي معاملاتو اهميت:

د يو مسلمان په حيثيت ادا زمونږ ديني ذمه داري ده چې د عباداتو سره سره خپل مالي معاملاتو کښې هم د شريعت د اصولو پابندي وکړو. په مالي معاملاتو کښې د شريعت نه غفلت هم د عبادت په قبليدو باندې بد اثر غورزوي. لکه څنګه چې په حديث شريف کښې راغلي دي چه د حرام مال نه څوک صدقه اوکړي نو هغه نه قبليږي. (سنن النسائی، حديث نمبر 2526)- يو بل حديث شريف کښې دي چې د چا خوراک څښاک د حرامو وي د هغه دعا نه قبليږي. (صحيح مسلم ، حديث نمبر:2346)- له دے احاديثو مبارکو نه ادا خبره واضحه معلوميږي چې حلال ګټه هم د عبادتونو په قبليدو کښې اثرلري-

د يو مسلمان د پاره اصل کاميابي د آخرت ده. د آخرت د حساب کتاب ورکولو ويره هغه بنيادي څيز دی کوم چې يو مسلمان ته په نورو انسانانو باندې اوچت مقام ورکوي. په يو حديث کښې دي چې د انسان قدمونه به د قيامت په ورځ تر هغه وخته پورې د خپل ځای نه نه شي اوچتيدی تر څو چې هغه نه پنځه پوښتني وو نه شي. په دي پنځو پوښتنو کښې دوه د مال ګټلو او د خرچ کولو متعلق دي چې مال دے په کومه طريقه ګټلے وو او په کوم ځائے کښې دي خرچ کړے وو؟ (سنن دارمی:حديث نمبر556)- نو ځکه په مال ګټلو اولګولو کښې احتياط هغه څيز دی چې ده آ خرت د نيولو نه بچ کولے شي.

د دے مقصد حاصلولو د پاره اول ده ځان نه يوټپوس اوکړوچې شريعت مالي معاملات کولو کښې زمونږ نه د کومو څيزونو مطالبه کوي؟ که مونږ سره د دی ټپوس جواب نه وي نو ادا کتابچه به مونږ ته ادا خبره اوښائي چې د مالي معاملاتو په باره کښې اسلامي تعليمات څه دي؟ او اسلامي بېنک څومره د شرعي اصولو په رڼړا کښې د مالي ضرورتونو د حل لارے وړاندے کوي؟ يو اسلامي بېنک کوم کوم مصنوعات ( پروډکټس ) وړاندې کوي او د دے څه طريقهٔ کار دے؟

مخکي له دے چي مونږ د مالي معاملاتو متعلق د اسلامي تعلیماتو او د اسلامي بینکاری باره کښي خبره اوکړو راځي چي اول د یوعام بینک او د هغے د طریقه کار جائزه واخلو.

## بینک :

د مختلفو کارونو په سلسله کښی زمونږ بینک سره واسطه پیښیږي لکه یوټیلټي بلونو ادا کول، اکاؤنټ کښی چیک جمع کول، یا چیک کیش کول وغیره خو بنیادي طور بینک د یو داسے ادارے نوم دے چي د مختلف اکاؤنټونو په شکل کښي ډپازټ اخلي او د فائینانسنګ په صورت کښي مالي ضروریات پوره کوي-

## د بینک ضرورت و اہمیت:

مونږ د بینک په ضرورت او اهمیت باندے دے خبرے نه ځان پویه ولے شو چي بازارونو کښی کاروبارهغه ورځ ډیر وي کله چي بینکونه کولاؤ وي او کومه ورځ چي بینکونه بند وي نو بازارونو کښي کاروبار هم کم وي. دي نه واضحه شوه چي بینک د معاشي سرګرمو یوه اهمه اداره ده- د بینک ضرورت او اهمیت به د لاندینوعنواناتو د تفصیل نه نورهم واضح شي-

## 1. د مال حفاظت:

مونږ په خپلو کورنو کښي د مال ساتل خطرناک ګڼرو ځکه چي هروخت دهغے ډېتیدو امکان وي- او که چرے مال په بینک کښي وي نو مونږه هغه محفوظ ګڼرو. بینک د کرنټ اکاؤنټ سهولت ورکوي چي په هغی کښی یو خوا د مال د حفاظت مقصد حاصلیږي او بل خوا اکاؤنټ هولډرز چي کله وغواړي خپلے پیسے واپس راؤباسلے شي.

## 2. سرمایه کاری:

زمونږ زیات خلق ډیر په احتیاط سره آمدن خرچ کوي او کوشش کوي چي سه مال بچت کړي چي راروان ضرورتونه پری پوره کړي- که دا بچت په کور کښي کیښودی شي نو په دي پیسو هیڅ ګټه نه شي حاصلیدے او نه د افراط زر د نقصان نه بچ کیدے شي او نه د غلا د خطرے نه محفوظ کیدے شي- د دے مقصد دپاره بینک سیونګ اکاؤنټ او ټرم ډپازټ په شکل کښي خلقو ته سهولت اور موقع ورکوي او د فائده مندے سرمایه کاری په نتیجه کښي په هغوی مناسب نفع تقسیموي-

## 3. د صارفینو مالی ضروریات پوره کولو د پاره آسان تیا:

زمونږ ډیر خلق د خپل کور، موټر یا کورني څیرونو حاصلولو دپاره د مال ضرورت لري. بینک مونږ ته د ژوند تیرولو سامان لکه کور، موټر او داسی نورو ضرورتونو دپاره د قرض په شکل کښي سهولت اومدد راکوي-

## 4. کاروبار چلولو د پاره مالي ضروریاتو پوره کول:

تجارت او کاروبار چلولو کښې بعضي وخت د لنډے مودے دپاره د مال ضرورت وي لکه د مصنوعاتو د تیارۍ دپاره د خام موادو اغستلو د پاره، د خپلو ملازمانو د تنخواه ورکولو دپاره، او د یوټیلټي بلونه ادا کولو دپاره- او کله د اوږدے مودے دپاره مال پکار وي لکه د فیکټرۍ لګول د پاره یا د مشینرۍ اغستلو د پاره- عام بینک د لنډې مودے(Short Term) او اوږدې مودے (Long Term) دواړو دپاره د قرض په بنیاد سهولت ورکوي-

دپورته ذکر شوي خدماتو نه علاوه بینک نور هم ډیر خدمات وړاندې کوي.

دا د بینک هغه خدمات دي کوم چې د نن ورځې معاشرے دپاره ضروري دي. تردے پورے چې کومه اداره دا قسم خدمات وړاندے کوي، که هغے ته د "بینک" نوم ور نۀ کړے شي نو بیا هم په معاشره کښې به داسې فرد یا اداره خامخواه وي کومه چې مذکوره خدمات وړاندے کوي- ځکه چې دا خیزونه د معاشرے ضرورت جوړ شوي دي او د دے پوره کولو د پاره څۀ جائز لاره ضروري ده-

> کوم خدمات چې بینک وړاندې کوي دا هغه خدمتونه دي چې یوه اداره یا فرد یے په معاشره کښې کوي، ځکه چې دا کارونه د معاشرے داسے ضرورت جوړ شوي دي چې د دوي د پوره کولو د پاره څۀ جائز لاره ضروري وه. اسلامي بینکاري د شریعت په دائره کي د دې خدمتونو وړاندے کولو د پاره مشهوره شوه.

## د اسلامي بینکارۍ ضرورت:

راتلونکے سوال دا دے چې د اسلامي بینکارۍ ضرورت څۀ دے؟ کله چې یو نظام د مخکے نه چلیږي نو د نوے نظام وړاندے کولو څۀ ضرورت دے؟ دا خبره مونږ پورته واضحه کړه چې بینکاري د نن ورځے یو ضرورت دے، مګر عام طور سره د بینکارۍ بنیاد د قرضو په لین دین وي او په قرض باندے اضافي پیسے د قرضدار نه اغستلے کیږي کوم ته په اصطلاح کښې سود (Interest) وئیلے کیږي-

بل خوا کله چې مونږ د اسلامي تعلیماتو مطالعه کوو نو مونږ ګورو چې په شریعت کښې په قرض اضافي پیسے اغستل او ورکول په قرآن مجید کښې الله تعالي سخت منع کړي دي، او حال دا دے چې په عامو بینکونو کښې ډپازټ هم په قرض باندې د مشروط زیاتوالي په بنیاد اغستلے کیږي او مخکے فائنانسنګ (Financing)هم د زیاتوالي په شرط سره کیږي. نو اوس یو خوا د بینکارۍ سهولیات د معاشرے ضرورت دے او بل خوا د معاشرے ضرورتونه پوره کولو د پاره په عامو بینکونو کښې د سود حرامه اور سخته ناروا لاره اختیاره ولے شي نو ځکه د اسلامي بینکارۍ ضرورت دے چې د شرعي اصولو په رنړا کښې د بینکارۍ خدمات خلقو ته وړاندے کړے شي-

## سود (Interest)؛ د عامے بینکارۍ د حراموالي سبب:

مالي معاملات د سود نه خالي پکار دي چې عربی کښې ورته "ربا" وئیلے کیږي او په لغت کښې دا د اضافے یا د زیاتوالي معنی لري او چې مونږ شریعت کښې د سود (Interest) په مطلب پوهیدو کوشش وکړو نو د حضرت علي رضي الله عنه نه یو روایت دے چې الفاظ یے دا دي " **كُلُّ قَرْضٍ جَرَّ مَنْفَعَةً، فَهُوَ رِبًا**"(المطالب العالیہ، حدیث نمبر1440)- چې ترجمه ئے دا ده "هرهغه قرض چې ځان سره نفع راوړي (یعنی په هغے باندے اضافي پیسے اخلي) هغه سود(Interest) دے- "

د دے روایت نه معلومیږي چې قرض باندے هرقسمه زیاتوالے سود(Interest)دے، اګرچې دا قرض د کاروبار د پاره وي یا د شخصي ضرورت د پاره، او نفع د پیسو په صورت کښې وي یا بلے څه فائدے په شکل کے- او دے زیاتوالی ته هر څه نوم ورکړے شي لکه ګټه، مارک اپ، وغیره خو دا سود دے- ځکه چې کله د معاملے بنیاد په قرض باندے وي نو مقرر شوے اضافه(ګټه) سود(Interest) وي-

## د یو غلط فهمۍ اصلاح

دیر خلق دا خیال کوي چې عام بینکونه پیسے د قرض په بنیاد نۀ اخلي بلکه د امانت په بنیاد ئې اخلي او کله چې د دے بنیاد په امانت شو او په قرض نه شو نو معامله د سود نه شوه بلکه د امانت شوه- یاد لرئ چې شرعي نقطه نظر سره دا یو قرض دے ځکه چې بینک دا خپله ذمه واري ګڼړي او استعمالوي یې او هم دا خصوصیت د قرض دے. د امانت استعمال خو جائز نه دي او پوره یې واپس کول لازم وي. دے نه علاوه امانت ضائع کیدو په صورت کښې واپسي لازمه نه ده که چرے څه کوتاهي یې نه وي کړې- او په بینک کښې بهرصورت واپسي لازمي ده-

## د قرآني آیتونو په رنړا کښې د سود (Interest) حرمت:

په قرآن مجید کښې الله سبحانه وتعالی په څلورو ځایونو کښې د سود ذکر کړے دے:

1. سورہ البقرة آیت نمبر 275 تا 281
2. سورہ آل عمران آیت نمبر 130
3. سورہ النساء آیت نمبر 161
4. سورہ الروم آیت نمبر 39

د دے آیتونو د تعلیماتو خلاصه دا ده:

- په ظاهره سود(Interest) سره مال زیاتیږي مګر د الله په نزد نه زیاتیږي.
- په ظاهره سود(Interest) او تجارت یو شان ښکاري، مګر د الله په نزد سود حرام او تجارت حلال دے.
- الله تعالیٰ سود(Interest) کموي او صدقات زیاتوي.
- څوک چې سود (Interest) نه ځان نه ساتي د الله او د هغه د رسولﷺ له طرفه هغه سره د جنګ اعلان دے.

## د احادیثو په رڼا کښې د سود ممانعت:

په احادیثو کښې د سود (Interest) نه ډیره سخته منع راغلے ده او سود ډیرقباحت بیان شوی دی - دلته یو څو احادیث ذکر کولے شي:

- په یو حدیث کښې رسول الله ﷺ د سود په ورکونکی، اغستونکی، لیکونکي او په سود باندے ګواه جوړیدونکي باندے لعنت کړے دے او فرمائیلي دي چې ادا ټول په ګناه کښې برابر شریک دي. ( مسلم، حدیث نمبر1598)-
- په یو بل حدیث کښې د سود بد والے په دے شان بیان شوے دے چې د سود قباحت اویا درجے دي او د ټولو نه کمه ادا ده چې سود خور داسے دے لکه چې څوک خپلې مور سره زنا کوي. (سنن ابن ماجه، حدیث نمبر2274)-

سود ځکه منع کړے شوی دی چې خلق ده حقیقي معاشی سرګرمو نه لرے ساتي- کله چې یو کس پوهیږي چې پیسې په قرض ورکولو سره ګټه حاصلیدے شي نو ولے به څوک د حقیقي اقتصادي سرګرمی مشقت زغمي؟ دے سره د انسان هغه معاشي فائدے متاثره کیږي د کومو حفاظت چې د حقیقي کاروبار نه بغیر ممکن نه دے- (امام غزالی رحمۃ الله علیه)

بهرحال ادا خبره څرګنده ده چې په عامے بینکاری کښې سود موجود دے نو ځکه اسلامي بینکاري ضروري ده. په راروانه مرحله کښې به مونږ د اسلامي بینکاری او د دے د طریقه کار جائزه اخلو.

## اسلامي بینک:

اسلامي بینک یو داسے اداره ده چې د بینکاری خدمات شرعي اصولو په رڼا کښې پیش کوي یعني د ډپازټ راټولول او د مالیاتو (Financing) ورکول دواړه اړخونو ته د شرعي اصولو پابندي کوي.

## د اسلامي بینک خصوصیات:

اسلامي بینک لاندیني خصوصیات لري.

- ټول معاملات د شرعي اصولو په رڼا کښې ترسره کیږي.
- د شرعي اصولو موافق ډپازټ راټولولے شي او مالي ضرورتونه پوره (Financing) کولے شي-
- صرف د شرعي کاروبار د پاره مالي سهولت ورکوي.

## د اسلامي او عامے بینکارۍ ترمنځه بنیادي فرق:

لاندې د اسلامي بینکارۍ او روایتي بینکارۍ ترمنځه بنیادي فرق واضحه کړے شوے دے:

| | اسلامی بینک | روایتي بینک |
|---|---|---|
| بنیاد | د اسلامی بینکارۍ بنیاد په شرعی اصولوباندے دے۔ | روایتي بینکارۍ د شرعی اصولو نه خلاف ده۔ |
| د ډپازټ طریقه | اسلامی بینک سیونګ ډپازټ د مضاربت په بنیاد اخلي۔ | روایتی بینک سیونګ ډپازټ د سودی قرض په بنیاد اخلي۔ |
| کسټمر | اسلامی بینک داسے ګاهګ سره معاملات نه کوي د چا کاروبار او آمدن چي حرام وي۔ | روایتی بینک داسے کاروبار سره هم معاملات کوي چي بنیادي کار يي حرام وي۔ |
| د فائنانسنګ کولو طریقه | په اسلامی بینک کښي د فائنانس طریقے د شراکت، خرڅولو اغستلو او د کرائے په جائزو معاملاتو مشتمل وي۔ | د روایتی بینک د فائنانس طریقے د سودی قرض په ناجائزو معاملاتو مشتمل وي۔ |
| د شرعی نګرانۍ نظام | په اسلامی بینکونو کښی د ټولو مالي معاملاتو د پاره د شرعي نګرانۍ یو مضبوط نظام موجود دے۔ | روایتی بینکونو کښي د شرعی نګرانۍ څه نظام موجود نه دے۔ |

## د اسلامی بینکارۍ نمونه (Islamic Banking Model):

د بینکارۍ کار بنیادي طور سره په دوو حصو مشتمل دے۔

1: د پیسو را جمع کولو طرف(Deposit side)

2 : په کاروبار کښی د پیسو لګولو طرف (Asset side)

عامه بینکارۍ

د اکاونټ هولوډرو نه مال را جمع کول (Deposit side) | صارفینو ته مال ورکول (Asset side)

قرض | قرض

یو اسلامي بینک دغه دواړه کارونه د شرعي اصولو سره صحیح څنګه ترسره کوي؟ راځئ چي په راتلونکي برخه کښي ځان پوهه کړو.

# اسلامی بینکاری

| صارفینو ته مال ورکول (Asset side) | | | اکاونټ هولډرو نه مال را جمع کول (Deposit side) | |
|---|---|---|---|---|
| تجارت (Trade) | اجاره (Lease) | شرکت (Partnership) | غیر سودی قرض | مضاربت |

یاد لرئ چي په اسلام کښي قرض صرف غیرسودي وي. په دے وجه قرض د ګټه ورکونکي کاروبار بنیاد نه شي کیدے. نو ځکه ګټے د پاره لازمي ده چي حقیقي کاروباري عقود لکه شرکت، تجارت، کرایه او سروسز دي استعمال کړے شي. او دا هغه څه دي چي اسلامي بینکاري د سود لرونکي بینکاری نه جدا کوي.

## 1. صارفینو نه سرمایه راټولول (Deposit Side):

اسلامی بینک کرنټ اکاؤنټس کښي پیسے د غیر سودي قرض په بنیاد او د سیونګ او ټرم ډپازټ کښي مال د مضاربت په بنیاد وصول کوي. بیا بینک دا جمع شوے ډپازټ په جائز کاروبار کښي په لګولو سره ګټه حاصله وي.

## 2. صارفینو ته تمویل (Asset Side):

اسلامی بینک کلائنټ ته مختلف تمویلی سهولتونه د شرعی اصولو مطابق ورکوي چي په هغے کښي مشارکه، مرابحه، اجاره، سلم، استصناع وغیره شامل دي. د دے طریقو وضاحت لاندے ورکړے شوي دي.

## اسلامی بینکاری کښي د ډپازټ طریقے:

### قرض:

چا ته مال په دي نیت ورکول چي هغه ئ استعمال کړی او بیا هم هغه مقدار د مال بیرته واپس کړی - دي ته په اصطلاح کښي قرض ویلے شي.

په شریعت کښي د قرض معامله جائز ده، مګر په قرض مقرر شوے زیاتوالے اغستل منع دي، او هم دے ته سود یا ربا (Interest) وئیلے کیږي کوم چي په نص د قرآن مجید حرام دے.

په اسلامی بینک کښي کرنټ اکاؤنټ(Current Account) د قرض په بنیاد پرانستلے کیږي ځکه چي د کرنټ اکاؤنټ مقصد سرمایه لګول نه دي بلکه پیسے محفوظ کول دي. په دے اکاؤنټ کښي ګاهک د نقصان خطره نه اخلي نو ځکه ورته ګټه هم نه شي ورکولے. بلکه یوازے د جمع شوے پیسو واپس کیدو یقین دهاني ورته کیږي.

## مضاربت:

مضاربت نه مراد داسې شرکت دے چې په هغے کښې يو شريک پيسه لګوي او بل شريک کار کوي او ګټه يې د مخکې نه مقرر شوي نسبت مطابق تقسيمه ولې شي. پيسه لګوونکي شريک ته رب المال (Investing Partner) وئيلے شي او کار کوونکي شريک ته مضارب (Working Partner) وئيلے شي. سيونګ اکاؤنټ (Saving Account) او ټرم ډپازټ (Term Deposit) کښې اسلامي بينک مضارب او ډپازټر(Depositor) د رب المال (Investing Partner) حيثيت لري.

د مضاربت په بنياد وصول کړے شوے پيسه بينک وړاندے نور د فائدے ځايونو کښې لګئ. بينک دا سرمايه په مختلفو تمويلي طريقو(Fianancing Modes)ځنګه چې په کرايه ورکول (Rent)، په شراکت ورکول (Partnership) او په اغستلو خرسولو (Trading) سره لګوي او ګټه په حاصلوي. بينک خپل د کال حساب (Annual Statements)کښې د سرمائے د لګو ځايونه خپلو ډپازټرو ته ښائي.

## د مضاربت اصول:

د مضاربت په معامله کښې لاندينې اصولو رعايت ساتل ضروري دی۔

- د ګټې تقسيمولو شرح د مضاربت په شروع کښې مقرر کول ضروري دي.
- د ګټے مقدار د مضارب (Working Partner) يا رب المال (Investing Partner) د پاره د مخکے نه مقرر کولے نه شي۔
- د ګټے اندازه په سرمايه کارۍ کښې د لګيدلے مال په نسبت شرعًا نه شي مقرره کيدے. يعنې داسے جائز نه ده مثلاً د يو لک روپو لس فيصده ګټه‌به مضارب يا رب المال اخلي.
- مالي تاوان به ټول رب المال(Investing Partner) برداشت کوي او د مضارب (Working Partner) محنت به ضايع کيږي. او که چرے د مضارب ( Working Partner) د غفلت د عملے څه تاوان اوشي نو د مضارب (Working Partner) په ذمه به د هغے پوره کول وي.

## د بينک ډپازټرز سره مضاربت:

په عامو حالاتو کښې مضاربه کښې يو پارټي مضارب (Working Partner) او دويمه پارټي رب المال(Investing Partner) وي. او د بينک په مضاربت کښې بينک مضارب (Working Partner) او ډپازټرز (Depositors) ټول رب المال (Investing Partner) وي. په دے حالت کښې د ټولو ډپازټرز د سرمائے حساب ساتل او د هغوی ترمينځ د ګټے تقسيم يو ګران کار دے.ځکه د دے د کار د اسانولو د پاره د شرعي ماهرينو په نګرانۍ کښې يو نظام جوړ کړے شوے دے.

## اسلامی بینکونوکښې د مضاربت طریقه:

اسلامي بینکونوکښې د مضاربت موده (Duration) یوه میاشت مقرر شوے ده، کوم چې د میاشتے ختمیدلو نه ورستو د بلے میاشتے د پاره نوے (Renewable) کیږي. په اسلامي بینکونو کښې د مضاربت په بنیاد وصول کړے شوي مجموعه د ډپازټ ته پول(Pool) وئیلے شي. د قاعدے مطابق د بینک او رب المال(Investing Partner) یعني په پول(Pool) کښې موجود ډپازټرز د پاره اوزان(Weightages) کم نه کم د میاشت شروع کیدو نه درے ورځے وړاندے مقرر شي چې اعلان یې د بینک په نوټس بورډ او په ویب سائټ اوکړے شي. د اوزانو مقصد دا وي که ډپازټرز خپله کښې د سرمایے مقدار او د دے بیا په کاروبار کښې د لګولو مودے اعتبار سره چې کوم فرق دے، دغه فرق د ګټے تقسیمولو په وخت نظر کښې ساتل پکار دي او دا صرف د کاروبار اصول نه دي بلکه د انصاف او د شرع تقاضا هم ده.

د میاشتے په آخر کښې د ګټے تقسیم د مخکې نه مقرر شوے نرخ مطابق د بینک او د پول(Pool) ترمینځه اوشي. د نورے ګټے تقسیم په بله مرحله کښې، پول ته ورکړے شوے ګټه د ډپازټرز ترمینځه د اوزانو(Weightage) نظام (Weightage System) په ذریعه د میاشتے اوسط بیلنس(Monthly Average Balance) په بنیاد د وړاندے نه مقرر شوے وزن (Weightage) موافق کیږي. دا کار جدید کمپیوټرائزډ نظام لاندے ترسره کیږي.

> د مضاربت په بنیاد ډپازټس باندے یو متوقع نفع خودلے شي لیکن د سرمائے په نسبت د ګټے مقدار د اول نه نشي طے کیدے بلکه د سرمایه لګولو په نتیجه کښې کومه نفع حاصله شوه دهغے د تقسیم شرح بره ذکر شوے طریقهٔ کار مطابق به طے کولے شي. موده پوره کیدو نه پس د ړومبي نه مقرر شوے د ګټے تقسیم مطابق هر یو شریک د خپلے نفع حقدار وي چې هغه د متوقع نفع نه کم یا زیات کیدے شي.

## په اسلامی بینکاری کښې د تمویل(فائنانسنګ) طریقے:

### شریکَول:

د مشارکه د پاره په فقه کښې د شرکت لفظ راغلے دے او د دے معنيٰ ده: شریکول-

د شرکت دوه بنیادي قسمونه دي۔

1. **شرکت الملک:** شرکت الملک نه مراد دوو یا زیاتو اشخاصو بغیر د څه کاروباري مقصد، په یوه اثاثه کښې شرکت کول دي، لکه د پلار په میراث کښې د ټولو وارثانو برخه اغستل یا د دوو کسانو په یوځای څه جائداد اغستل.
2. **شرکت العقد:** شرکت العقد نه مراد د دوه یا ډیرو اشخاصو په کاروبار کښې شرکت کول دي. په دے شرکت کښې شریکان نقصان د خپلے سرمائے د نسبت مطابق برداشت کوي او ګټه د فیصله شوي نسبت مطابق تقسیموي.

## د شرکت الملک اصول:

د شرکت الملک یو څو اهم اصول دي چي ځان پري پوهه کول پکار دي.

- د ټولو شریکانو په رضا سره یو شریک خپله حصه په کرائے ورکولے شي.
- په شرکت الملک کښي به حصه اغستونکي د خپلے حصے په مقدارپه تاوان او ګټه کښي شریک وي۔

## د شرکت العقد اصول:

شرکت العقد د پاره لاندے لیکلے شوي اصولو خیال ساتل ضروري دي۔

- د شرکت په شروع کښي د ګټے تقسیمولو نسبت مقرر کول لازمي دي.
- د یو شریک د پاره ګټه د مخکښے نه مقرر کیدی نه شي. او په کاروبار کښي لګولے شوي سرمایے په اندازه هم ګټه شرعاً نه شي مقررکیدے. لکه د یو لکو روپو لس فیصده ګټه مقررول چي داسے جائز نه دي.
- تاوان به همیشه د سرمایے د نسبت مطابق تقسیمیږي او که چرے د شریک د غفلت له وجه نقصان اوشي نو هغه به خاص په غفلت کونکي شریک تاوان وي.
- د قاعدے مطابق هرشریک د کاروبار د پاره د کار کولو حق لري. په خپله کښي رضا صلاح سره یو شریک د کار کولو نه منع کولے هم شي خو په دی حالت کښي د هغه د ګټے نسبت د هغه د سرمایے د نسبت نه سیوا کیدے نه شي.

د مشارکه په بنیاد د مالیاتو ورکولو د پاره په عام طور سره دوه طریقے دي.

1. شرکت متناقصه (Diminishing Musharakah): د شرکت الملک په بنیاد.
2. رننګ مشارکه : د شرکت العقد په بنیاد.

د دواړو طریقو په بنیاد د مالیاتو ورکولو تفصیل دا دے:

## شرکت متناقصه(Diminishing Musharakah):

شرکت متناقصه (Diminishing Musharakah) عام طور سره د شرکت الملک په بنیاد کیږي. د شرکت متناقصه (Diminishing Musharakah) درے مرحلے دي۔

1. **شرکت الملک:** په ړومبنی مرحلے کښي بینک او کسټمر په شریکه سامان اخلي او دواړه ملکیت شریک وي یعني اغستلےشوے سامان کښي د دواړو شرکت الملک جوړ شي.
2. **اجاره:** د دے معاهدے په بنیاد بینک سامان کښي خپله برخه کسټمر ته منلے شوي کرایے په بدل ورکوي.
3. **د بینک برخه اغستل:** کسټمر وخت په وخت د بینک حصه اخلي. دے سره د کسټمر ملکیت په مشترکه سامان کښي ډیریږي او د بینک ملکیت کمیګی. او په آخر کښي کسټمر د ټول سامان مالک جوړ شي.

## د شرکتِ متناقصه استعمال:

اسلامی بینکونو کښي عموماًا د کورونو فائنانسنګ د شرکت متناقصه په بنیاد ترسره کیږي. شرکت متناقصه د لوئي موډے فائنانسنګ د پاره یوه عام د استعمال طریقه ده.

## رننګ مشارکه:

د مشارکه په بنیاد د مالیاتو ورکولو دویمه طریقه رننګ مشارکه دی. دا ده سودي بینکاری رننګ فائنانس جائزمتبادل دے. رننګ مشارکه د شرکت العقد په بنیاد کولے شي.

رننګ مشارکه کښی بینک په کاروبار کښي د کستمر حصه اخلي. د رننګ مشارکه خصوصیات دا دي:

- بینک د کستمر په کاروباري کارونو کښي شرکت کوي.
- کستمر چې د پیسو کوم مقدار د بینک نه اخلي هغه د بینک سرمایه کاري ګڼرلے کیږي.
- د کستمر د طرفه واپس راوړلے شوے پیسے د بینک سرمایه کاری کښي کمے ګڼرلے کیږي.
- د ګټے د تقسیمیدو شرح د سرمایه کاری د شرح مطابق وي.
- جائزه اغستلے شوے اکاونټونو (Audited Accounts) راسیدو نه پس د حقیقي ګټے تقسیم کولے شي.
- تاوان د سرمایه کاری د نسبت مطابق تقسیمولے شي.

## د رننګ مشارکه استعمال:

اسلامی بینکونوکښي کمپنیانوته د فائنانسنګ د یو طریقے په طور د رننګ مشارکه استعمال کیږي.

## په کرایه ورکول:

## اجاره:

اجاره د کرایے په معنی کښي ده، یعنې د کرایے په بدل کښي یو ځیز د استعمال د پاره ورکول. دے معامله کښی په کرایه ورکوونکے د دغے ځیز مالک وي او کرایه دار یې استعمالوي. د ملکیت باره کښي خطرے (Risks) او اخراجات د مالک په ذمه وي او د استعمال متعلقه اخراجات د کرایه دار په ذمه وي.

## د اجارے اصول:

د اجارے معامله کولو د پاره لاندیني اهم اصول په نظر کښې ساتل پکار دي.

- اجاره صرف هغه اثاثو د پاره کیدے شي د کومو استعمال(Useable Assets) چې ممکن وي- داسے څیزونه چې استعمال سره ختمیږي(Consumable Assets)، اجاره یي نه شي کیدے لکه د پټرول او ګیس اجاره نه شي کیدلے.
- د اجارے د ترون په وخت کښې، په اجاره ورکونکي څیزباره کښې ټول خصوصیات چې معلوم وي.
- د کرایه مقدار او د اجارے موده دي په خپله کښې صلاح او مشورے سره مقرر کړے شي.
- د ټولے مودے د پاره مختلفے کرایے مقررکیدے شي خو د هغي معلومیدل ضروري دي.
- د ملکیت باره کښې خطرے (Risks) او اخراجات د مالک په ذمه وي.
- د استعمال متعلقه اخراجات به کرایه دار برداشت کوي.

## د اجارے استعمال:

اسلامی بینکونو کښې په عام طور سره د ګاړو، مشینانو، د پلانټ وغیره فائنانسنګ د اجارے په بنیاد کیږي.اجاره د اوږدے مودے فائنانسنګ د پاره د استعمال یوه عامه طریقه ده.

## اغستل او خرڅول:

د اغستلو او خرڅولو په بنیاد تمویل، خلوړ طریقو سره عام طور باندے په اسلامي بینکونو کښې کیږي.

## 1. مرابَحه:

مرابَحه یو خاص قسمه د خرڅ معامله ده چې سامان خرڅوونکے د سامان خرچ او ګټه هم بیانوي.

## مساومَه:

مساومه د خرڅ یو عامه معامله ده چې سامان خرڅوونکے صرف دخرڅولو قیمت بیانوي، دخرچ او د ګټے تذکره نه کوي.

## د مرابحه او د مساومه اصول:

مرابحه یا مساومه د پاره ده دے اهم اصولو خیال ساتل ډیر ضروري دي.

- د اغستلو او خرڅولو په وخت چې سامان موجود وي او د خرڅونکي په ملکیت او حقیقي یا قانوني قبضه کښې وي.
- د قیمت ادا کوول په رضامندۍ سره په اول سر کښې، په نقدو، په قرضو یا په قسطونو هر قسم کیدے شي.

## د مرابحه استعمال:

د مرابحه په بنیاد فائنانسنګ په هغه صورتونو کښي کولے شي کله چي د بینک کلائنټ (ګاهګ) ته د خپل کاروبار د پاره د خام مال یا د تیار سامان خریداری ضرورت وي.

## 2. تجاره:

کستمر ته د مالی سهولت رسولو بله طریقه اسلامي بینکونو سره دا ده که چرې کستمر د خرڅ د پاره تیار مال لرې نو بینک د بازار نرخ نه لږ کم نرخ باندے په نقدو یي واخلي. دے نه بعد د وکیل په لاس دغه مال په مارکیټ کښي خرڅولو سره نفع ګټلے شي. دا طریقه په اسلامي بینکونو کښي د تجاره په نوم بللے کیږي.

## د تجاره اصول:

د تجاره د پاره دا اهم اصول په نظر کښي ساتل پکار دي.

- د اغستلو خرڅولو په وخت سامان موجود او متعین شوے وي او د خرڅونکي په ملکیت کښي وي.
- د اغستلو خرڅولو په وخت سامان د خرڅونکي په حقیقي یا قانوني قبضه کښي وي.

## د تجاره استعمال:

د تجاره په بنیاد فائنانسنګ په هغه صورتونو کښي کیږي کله چي د بینک کستمر(Customer) د خپل کاروبار جاري اخراجاتو (Running Expenses) د پاره فائنانسنګ حاجت لرې او ده سره د خرڅ د پاره تیار مال موجود وي.

## 3. سَلَم:

د سلم نه مراد داسي خرڅول دي چي پوره قیمت په شروع (Advance) کښي ادا کړے شي او سامان وروستو حواله کړے شي. دا معامله په یو څو شرطونو سره په شریعت کښي جائزه. اګرچه د خرڅ بنیادي شرط یعني د خرڅ سامان د خرڅوونکي په قبضه او ملکیت کښي وي، په دے کښي موجود نه دے خو عالمانو د حدیثونو په رنړا کښي د اغستلو او خرڅولو عمومي اصولو نه مستثني ګرځولے ده.

## د سلم اصول:

سلم د پاره لاندے لیکلي شوي اصول په ذهن کښي اوساتلے شي:

- صرف د مثلی مال (یعني هغه څیزونه چي اجزا یي مماثل وي د مثال په طور غنم، وریجے، کرنسي، وغیره)اغستل خرڅول د سلم په بنیاد کیدے شي.
- د اخستلو او خرڅولو په وخت کښي د سامان ټول صفتونه لکه جنسیت، نوع، مقدار، قیمت، وغیره او نور ضروري شرطونه داسے واضحه شي چي هیڅ ابهام په کښی پاتي نه شي.
- د سامانونو د حوالے کولو نیټه او ځاے د بیع سلم په وخت کښي مقررکول لازم دي.

## د سلم استعمال:

د سلم په بنياد فائنانسنګ په هغه صورتونو کښې کيږي کله چې د بينک کسټمر د خپل کاروبار روان اخراجاتو(Running Expenses) د پاره د تمويل يعني فائنانسنګ (Financing) ضرورت ولري او دے په مستقبل کښې بينک ته داسے سامان ورکولو جوګه شي کوم چې د سلم په بنياد خرڅے دے شي.

## 4. اِستصناع:

استصناع داسے خرڅولو ته وئيلے شي چې په هغے کښې اغستونکے داسے مال اخلي چې د هغے د جوړولو او تيارولو ضرورت وي. عام معمول دا دے چې اغستونکے آرډر ورکوي او خرڅونکے ورته تيار مال حواله کوي. د قيمت ادا کؤل، مخکے ادا کول، نقد، قرض يا قسطونو کښې کيدے شي. په استصناع کښې سامانونه وروستو سپارلے کيږي. دا معامله هم ده يو څو شرطونو سره جواز لري، اګرچې د خرڅ بنيادي شرطونه په دے حالت کښې موجود نه وي يعني د خرڅ په وخت خرڅيدونکے سامان د خرڅونکي په ملکيت او قبضه کښې نه وي. عالمانو د مختلفو دليلونو په رنړا کښې د عمومي قاعدے نه دا معامله مستثنٰى کړے ده.

## د استصناع اصول :

د استصناع د پاره د لاندينی اهم اصولو خيال ساتل ضروري وي:

- د معاملے په وخت کښے د سامان ټول صفتونه داسے واضحه کول ضروري دي چې هيڅ شک پکښې پاتے نه شي۔
- که چرې سامان متعين شوي صفات پوره نه کړي نو اغستونکے يې بيرته واپس کولے شي۔
- قيمت او د هغے ادا کولو شرطونه دے مقرر کړے شي۔
- د سامان تيارلو د پاره به بائع (خرڅونکے) د مشتري (اغستونکي) د خام مال استعمال نه کوي۔

## د استصناع استعمال:

د استصناع په بنياد فائنانسنګ په هغه صورتونو کښې کيږي کله چې د بينک کسټمر(Customer) لره د خپل کاروبار روان اخراجاتو (Running Expenses) د پاره ده تمويل (Financing) ضرورت وي او هغه داسے څيزونه په مستقبل کښې بينک ته د ورکولو قابل شي چې د استصناع په بنياد خرڅيدے شي.

## د اسلامی بینکارۍ باره کښي عمومي سوالونه

### آيا په اسلام کښي د بینکارۍ تصور موجود دے؟

آؤ جي بالکل موجود دے، کومه اداره چي په اسلامي طریقه د خلقو بچت وصول کوي او مخکےئ اسلامي اصولو مطابق د کاروباري مقصد د پاره استعماله وي او د دے نوم بینک کيږدي نو د داسے بینک تصور په اسلام کښي بالکل موجود دے. آؤ که چرے د سود (Interest) په بنیاد د پیسو لین دین وي نو د داسے بینکارۍ تصور په اسلام کښي بیخی نشته. مونږ د اسلام په شروع کښي د مشهور صحابي حضرت زبیر بن عوام رضي الله عنه مثال لرو چي خلقو به ترے مطالبه کوله چي د هغوي پیسے ځان سره کيږدي. هغوي به د امانت په طور ساتلو نه ډډه کوله او پیسے به یی د قرض په طور اغستلے او بیا به یی په تجارت کښي لګولے. د حضرت زبیر د خلقو پیسے قرض اغستل او په تجارت کښي لګولو طریقه د نن صبا بینکونو سره مشابهت لري- (په سود تاریخي فیصله، مفتي محمد تقي عثماني، ص 68)

### آيا اسلامي بینک اسټیټ بینک سره سودي معامله کوي؟

نه، د اسټیټ بینک حیثیت د بینکونو د نګران ادارے دے. اسټیټ بینک اسلامي بینکونو سره دوه قسمه تعلق لري. د یو نګران ادارے په حیثیت سره اسټیټ بینک چي کوم هدایات ورکوي هغه انتظام سره تړلے وي مثلاً د کستمر د پاره معیاري خدمات وړاندے کول وغیره ـ دویم قسم کاروباري لین دین سره تعلق لري هو هغه هم اسلامي بینک اسټیټ بینک سره د شرعي اصولو مطابق کوي چي په هغي کښي هیڅ قسمه سودي معامله نه وي.

### اسلامي بینکارۍ او عامه بینکارۍ په ظاهره یو شان ښکارۍ. فرق په کښۍ څه دۍ؟

شریعت کښي دوو څیزنو نتیجه یو شان کیدو سره لازمه نه ده چي د دواړو یو شان حکم هم وي. زمونږ په وړاندے ډیر مثالونه دي لکه یو څاروے د الله تعالے په نوم سره ذبح کیږي او بل د غیر الله په نوم. اوس په ظاهره دواړو تر منځه هیڅ فرق نشته ځکه چي دواړه ذبح شوي دي خو یو حلال دے او بل به حرام؛ ځکه چي طریقه بیله بیله ده. دغه شان دا صحیح خبره نه ده چي اسلامي بنیکونو او د روایتي بینکونو ګټه مساوي کیدو په وجه دواړو کښي هیڅ فرق نشتے. مثال په طور یو کس حلال ښناک خرڅوي او بل شراب، او د دواړو ګټه برابر وي نو یواځے ګټه مساوي کیدو سره حلال کار کونکي آمدن حرام نشو ګرزولے. دویم مثال د یو سړی دے چي په لوږه وي نو دوه اختیارونه لري، یو دا چي محنت مزورۍ سره مال اوګټي یا غلا اوکړي. مال حاصل کړي او لوږه لرے کړي. آخیري نتیجه لوږه ختمول دي خو یوه لاره روا او دویمه ناروا ده. هم دغه شان یوازے نتیجه کتلو سره فیصله نه شي کیدلے بلکه پوره معامله او د هغے شرطونه لیدل لازمي دي او دا هم کتل لازم دي چي نتیجه په کوم طریقه کار (Process) سره حاصله شوے ده؟ دا هغه څیزونه دي چي یو معامله پړي متعین کیږي چه حلال ده او که حرام.

## اسلامي بینک هم په مقرره وخت ادائیګۍ نه کولو په صورت کښي د کسټمر نه د خیرات په شکل کښي اضافي پیسے اخلي. آیا دا سود (Interest) نه دے؟

اضافي پیسے چي یو عام بینک د خپل کسټمر نه اخلي دا د هغۀ د ګټے برخه ده او په قرض اضافه شرعًا سود(Interest) دے. کله چي پیسے یو اسلامي بینک اخلي نو دا د کسټمر د یو لوظ پہ وجہوي په کوم کښے چي کسټمر د دے خبرے اقرار کړے وي که چرے هغه په وخت پیسے ور نه کړي، نو هغه به د اسلامي بینک په مطالبه د خیرات د پاره دومره مقدار صدقه ورکوي او دا مال به د بینک د آمدن حصہ نه وي بلکه اسلامي بینک د خیراتي مقاصدو په حاصلولو خرچ کولے شي. دے سره کسټمر د خپلو پیسو په وخت جمع کولو پابند شي او شرعًا صحیح هم دے. نور تفصیلات چي بینک سره څومره خیرات را جمع شوے وي او بیا کوم ځائ یي خرچ کړل؟ دا بینک خپل کلني حسابونو کښي شائع کوي.

## آیا د اسلامي بینکونو د پاره دا صحیح ده چي د دوي په فائنانسنګ (Financing) کښي سودي بینچ مارک، KIBOR دے وي؟

لکه څنګه چي په سوال کښي ویلے شوي دي چي دا بینچ مارک (Benchmark) دے. بینچ مارک د بازار نرخ (Market Rate) معنی لري لکه څنګه چي سرو زرو نرخ مقرر کیږي په کوم چي ټول بازار سره زر خرڅوي. دغه شان فائنینشل مارکیټ (Financial Market) به په کوم نرخ فائنانس کوي؟ کائبور (KIBOR) په حقیقت کښي د دے د بازار نرخ دے چي هره ورځ د اسټیټ بینک د اړخه اعلان کیږي. دا نرخ پخپله سود نه دے. خو د قرض په بنیاد دا نرخ سود دے لیکن که یو سامان بیعه کړے شي او د نفع د پاره کائبور بنیاد جوړ کړے شي نو بیا دا سود نه دے ولے چي دا د سامان قیمت ترے اغستلے کیږي. یو مثال دے چي بازار کښي حرام غوښه خرڅیږي او مالک یی په لسو فیصدو خرڅوي نو آمدن به یی حرام وي ولے چي خرڅیدونکے څیز حرام دے. مګر د حلال غوښے د دوکان مالک د بازار د نرخ موافق لس فیصد ګټه کیږدي نو دا ګټه حرامه نه ده. وجه یی دا ده چي د دے دوکاندار سامان حلال دے. هم په دغه شان اسلامي بینکونه سامان خرڅوي یا په کرایه ورکوي. په دي حال کښی دا به حرام نه وي چي د نرخ په متعین کولو کښی کائبور په نظر کښي اوساتي یا د کرایه په مقررولو کښي کائبور بنیاد جوړ کړے شي نو دا کرایه یا قیمت به حرام نه وي.

## اسلامي بینک په حقیقت کښي شرعي اصولو سره روان دي. په دے به څنګه باور کوو؟

د دي پوښتنے په جواب پوهیدلو د پاره د اسلامي بینکونو د شرعي نګرانی نظام باندے ځان پوهه کول پکار دي. د شرعي نګرانی نظام لاندیني عناصرو باندے مشتمل دے:




1. **<u>د بینک شرعي بورډ</u>:** د هر اسلامي بینک د پاره لازمي ده چي په مستند مفتیان کرامو باندے مشتمل شرعي بورډ لري. د دي بورډ ذمه داري دا ده چي د بینک په سطح د بینګنګ پروډکټس باره کښي د پالیسی منظوري ورکوي.
2. **<u>شریعه کمپلائنس ډیپارټمنټ</u>:** شریعه کمپلائنس ډپارټمینټ جوړول هم د اسلامي بینک د پاره لازمي ده چي د دے حیثیت د شرعي بورډ معاونت کول دي، د دے د پاره د بینک د ټولو کاغذاتو، قواعدو او د معاملاتو جائزه اخلي. دي نه علاوه د ټولو ډپارټمنټس او د برانچونو شرعي جائزه هم اخلي، د پاره د دے چي د شرعي بورډ هدایات نافذ دي او که نه.
3. **<u>انټرنل شریعه آډټ</u> :** انټرنل آډټ(داخلي آډټ) سره انټرنل شریعه آډټ هم لازم دے. انټرنل شریعه آډټ د شریعت په رڼرا کښي د بینک مختلفو کارونو آډټ کوي.
4. **<u>ایکسټرنل شریعه آډټ</u>:** د هر اسلامي بینک د پاره ایکسټرنل شریعه آډټ (بیروني آډټ) هم لازم دے په کوم کښي چي په ملکي سطح آډټ کونکے یوه اداره د بینک د معاملاتو د شریعت په رڼرا کښي آډټ کوي.
5. **<u>شریعه ایډوائزری کمیټی، اسټیټ بینک آف پاکستان</u>:** اسلامي بینکاری متعلق پالیسي جوړولو په غرض او شرعي راه نمائی د پاره جوړه شوے ده. د اسټیټ بینک اسلامي بینکنګ ډپارټمنټ د دے کمیټی د هدایاتو په رڼرا کښي اسلامي بینکاری د پاره پالیسی جوړوي.
6. **<u>اسلامی بینکنګ ډپارټمنټ، اسټیټ بینک آف پاکستان</u>:** د اسلامي بینکونو نګرانی او پالیسي جوړولو د پاره د اسټیټ بینک لہ طرفہ دا ډپارټمنټ په کال 2003 کښي جوړ شوے دے. دا ډپارټمنټ اسلامي بینکاری له منصوبه بندي، هدایات ورکول، د اسلامي بینکونو مصنوعات منظوري ورکول او د اسلامي بینکاری انډسټری معلومات هم جاري کوي.

7. **انسپیکشن ټیم، سټیټ بینک آف پاکستان:** د اسلامي بینکونو د سټیټ بینک له طرفه معاینه کیږي، په کوم کښې چې دا کتلے کیږي چې یو اسلامي بینک د سټیټ بینک د اسلامي بینکنګ ډپارټمنټ، د بینک د شریعه بورډ له طرفه صادر شوي هدایاتو باندے عمل کوي او که نه؟

دے اووه عناصرو باندے مشتمل مضبوط او قوي نظام په دي وخت په ټولو پاکستاني اسلامي بینکونو کښې موجود دے. او الحمد لله مسلسل بهترۍ طرف ته روان دے.

## د بحث نتیجه :

1) ثابته شوه چي دواړه قسمه بینکارۍ کښې فرق دے.

2) بعضے اعتراضونه ده کم علمۍ ده وجے دي.

3) فائدے سره رسک او نقصان برداشت کول دي. د سودي بینکونه په شان صرف او صرف نفع او د سرمایه دارو تحفظ کول مقصد نه دے.

4) د اسلامي بینکارۍ شروع کول د ضرورت دپاره او د سودي بینکارۍ نه خلاصے حاصلولو په بنیاد دے . د سرمائے او د نفع دپاره صرف نه دے.

5) اسلامي بینکاري صرف دعوي نه ده بلکه د یو ترلے شوي شرعي نګرانۍ نظام لاندے کار کوي.

## زمونږ ذمه واري:

رازئ! چې سره د بینک اسلامی ادا یو عزم اوکړو :



DEEN CONNECT

BankIslami




دین کنیکټ، یو آن لائن پروګرام دے کوم چې د علمائے کرام په نګرانی کښې اسلامي تعلیمات ورکولو د پاره مفت پیش کولے شي.

## پروګرام کښې شامل دي:

- د قرآن پاك د عربی ژبے کلاسونه
- د قرآن پاک د سورتونو مختصر تفسیر، ترجمے او د تجوید کلاسونه
- مختلف موضوعاتو باندے ورکشاپونه کلاسونه او ویبینار(Webinar)

نور تفصیلات او رجسټریشن د پاره زمونږ ویب سائټ
http://www.bankislami.com.pk/deen-conect اوګورئ

340 PLUS BRANCHES
OVER 123 CITIES

deen.connect@bankislami.com.pk
021-35839906-7 Ext #: 2900 & 2906
0308-2990552

24/7 Phone Banking
(021) 111-ISLAMI (111-475264)

BankIslami

BankIslami Pakistan Limited

**Head Office:**

11th Floor, Executive Tower, Dolmen City,
Marine Drive, Block-4, Clifton, Karachi-Pakistan.
Tel: (92-21) 111-(BIP) 247-111 Fax: 3537873
Phone Bank: (92-21) 111-475-264 (ISLAMI)
www.bankislami.com.pk